


د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



# فاروق « فردا »

د نشرنیټه : 9 جنوری 2021 م

# غزل

غزل مې پر تا پېل شي او هم ته يې انتها شي
عروض د مثنوي مې او د نوي شعر هجا شي
د زلفو له ماښامه دې يو يو ويې را ټول کړم
د شپې دزړه سپوږمۍ به يې او ستورى د سبا شي
له تانه غېر د بل چا دې ستاينه پکښې نه وي
مضمون مې د کتاب شي او سرليک مې د وينا شي
د قام د زړې مينې اسطورې بېرته ژوندي کړې
لېلا شي ، درخانۍ شي او شيرينې شي ، عذرا شي
زه شعر ستا د زلفو د وږمو باد کښې لاهو کړم
په خيال کښې يې چې ته خپلې تابلو سره آشنا شي
لمانځه کښې ستا د حسن له سورو نه سترې نه شم
مې په لپو کښې دعا شي له هره فرضه وروسته
توپير د رخ ، وزير او د پياده در سره نه وي،
ببخاره سپور په آس و پيل همدغسې پاچا شي
رالوتی بوربوړکې به دې اوس وغورځوي چېرې
چې يار د نن پرون نشوی ، والله که د فردا شي
***
فاروق « فردا »

د جنوری ۹ مه.۲۰۲۱ کال

بازګشت به صفحه اصلی — www.said-afghani.org